اونیزه راستنیدنه
هفته نامه عودت

د افغانستان اسلامي امارت
د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت




۹۵ یمه ګڼه،۱۴۰۴ کب: لومړی مخ/ شماره ۹۵ حوت ۱۴۰۴:صفحه اول

## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ له رییس عرفات جمال سره وکتل

په دغې ناسته کې، چې په روان زیږدیز کال کې راستنېدونکو ته د اړینو مرستو د رسولو او په اداري چارو کې د اسانتیاوو په اړه خبرې وشوې، عرفات جمال د کډوالو چارو وزارت همکارۍ وستایلې او زیاته یې کړه، چې په تېر زیږدیز کال کې یادې کمېشنرۍ ۲.۲ میلیونو راستنو شویو ته خدمات او مرستې وړاندې کړې دي.

د نوموړي پر وینا، چې د روان زیږدیز کال لپاره لومړیتوبونه او د کډوالو اړتیاوې په ګوته شوې او هغو ته په کتو به خپلې چارې تنظیم کړي.

ښاغلي عرفات جمال په افغانستان کې په دوامداره او اغېزمنه توګه د راستنېدونکو چارو ته د رسېدنې په موخه په اداري پړاونو کې د اسانتیاوو رامنځته کولو او ځینو شته ستونزو د حل اړوند وړاندیزونه له محترم وزیر سره شریک کړل.

محترم مولوي عبدالکبیر د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ رییس او ورسره مل پلاوي ته ښه راغلاست وویل او له افغانانو سره یې د ملګرو ملتونو له مرستو مننه وکړه.

محترم وزیر د کډوالو او راستنېدونکو چارو ته د رسېدنې په موخه د امارتي او نړۍوالو بنسټونو تر منځ همغږي مهمه وبلله او په اړوندو چارو کې یې د همکارۍ ډاډ څرګند کړ.

د ناستې په پای کې محترم وزیر روان کال راستنو شویو ته د لاډېرو مرستو پر رسولو ټینګار وکړ.



## معین مسلکی وزارت امور مهاجرین با رییس ساحوی دفتر هماهنگ کننده کمک های بشری ملل متحد ملاقات نمود

محترم الحاج مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت امور مهاجرین وعودت کننده گان، با آقای گلیت راجر رییس دفاتر ساحوی دفتر هما هنگ کننده کمک های بشری سازمان ملل متحد ( OCHA ) ملاقات نمود.

در این دیدار پلان ها و برنامه های هردو طرف در قبال خدمت به مهاجرین مورد بحث قرار گرفت.

محترم راشد با ارایه معلومات از خدمات به مهاجرین برگشت کننده در مرز ها و خطوط فرضی کشور بر حمایت همیشه گی امارت اسلامی تاکید کرده خواهان گسترش فعالیت و کمک نهاد های همکار در زمینه شد.

محترم معین مسلکی این وزارت بر اولویت کمک موسسات برای مهاجرین اصرار کرد.

آقای راجر با قدردانی از این ملاقات خواهان تداوم چنین دیدار ها در بحث بر حل مشکلات مهاجرین و رسیده گی بر آن شد.

وی بر حمایت مهاجرین در کشور اطمینان داده از کمک های آن نهاد در بخش های مختلف در آینده برای میلیون ها تن خبر داده و تاکید بر اولویت بندی نیازمندی های بشری مهاجرین، شفافیت و تسریع فرایند کمک ها نمود.



## په ۵ ولایتونو کې تر ۳ زرو زیاتو کورنیو سره مرستې وشوې

په کابل، خوست، بلخ، ننګرهار او کاپیسا کې له ۳ زره او ۲۸۷ راستنو شویو، بېځایه شویو کورنیو، یتیمانو، زیانمنو او کوربه ټولنو سره نغدي، خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې وشوې.

د ولایتونو د راپورنو له مخې، د همکارو بنسټونو او اهل خیر کسانو له لوري، تر اړمن پېژندلو وروسته په کابل کې له ۱۱۳ کورنیو سره د یو میلیون ۲۹۶ زره او ٦۴۵ افغانیو، په کاپیسا او خوست کې له ۲ زرو کورنیو سره د ۵ ډوله خوراکي توکو، په ننګرهار کې له ۴۵ کورنیو سره د ٦۷۵ زره افغانیو، په بلخ کې یو زر او ۱۲۹ کورنیو سره ۴ میلیونو ۵۳۵ زره او ۵۲۵ افغانیو او ۱۰ ډوله خوراکي او غیرخوراکي توکو مرستې وشوې.

همدارنګه د همکارو بنسټونو له لوري تر مستحق پېژندلو وروسته، د کابل ښار په بېلابېلو ناحیو کې ۱۲ زره او ۵۹۷ تنو سره د ۳۵ میلیونو ۵۳۱ زره او ۳۰۰ افغانیو، په فراه کې له ٥٦ کم عمره ماشومانو سره د ۷۳۳ زره او ۴۰ افغانیو او په بغلان کې له ۱۰ تنو سره ۱۴۵ زره او ۲۰۰ افغانیو مرستې وشوې.

د دغو مرستو اصلي موخه د راستنو شویو د ژوند د لومړنیو اړتیاوو پوره کول او د هغوی د اقتصادي ستونزو کمول دي.



## برای هزاران خانواده برگشت کننده در ٦ ولایت توزیع گندم و کمک نقدی آغاز شد

به اساس فرمان عالیقدر امیر المومنین، برای ۸۴۰۰ خانواده برگشت کننده در ولایات کابل، نورستان، بامیان، لوگر، تخار و سمنگان با حضور مولوی عطاالله عمری وزیر زراعت، آبیاری و مالداری، والیان، و مقامات محلی ولایات یاد شده توزیع کمک نقدی و گندم آغاز شد.

این کمک ها برای۱۲۰۰ خانواده در کابل، ۴۰۰ خانواده در نورستان، ۱۲۰۰ خانواده در بامیان، ۱۲۰۰ خانواده در لوگر، ۲۲۰۰ خانواده در تخار و برای ۲۲۰۰ خانواده در سمنگان، که از کشورهای ایران و پاکستان به کشور بازگشته‌اند، ۵ بوجی گندم و مبلغ ۵ هزار افغانی پول نقد حسب هدایت ویژه مقام محترم رهبری ا.ا. افغانستان از سوی وزارت زراعت، آبیاری و مالداری کشور فراهم شده است توزیع میگردد.

امارت اسلامی افغانستان، در قبال رسیدگی به وضعیت عودت‌کنندگان و توزیع مساعدت‌های نقدی، غذایی و نیازهای اساسی زندگی مهاجرین

به‌گونه دوامدار و منظم تلاش مینماید تا تمام خانواده‌های مستحق تحت پوشش کمک های بشری قرار گیرند.



## په ننگرهار کې تر ۳ زره زیات راستانه شوي زده‌کوونکي په وړیا توگه د یو ښوونیز کال لپاره په خصوصي ښوونځیو کې شاملېږي

د هغې هوکړې له مخې، چې د ننگرهار د مرستیال والي مولوي غلام رحمان حیدري او د خصوصي ښوونځیو د اتحادیې رییس عاشق الله نجیبي تر منځ لاسلیک شوې وه، ۳ زره او ۴۲۰ راستانه شوي زده‌کوونکي په وړیا توگه د یو ښوونیز کال لپاره د یاد ولایت په ۳۸۴ خصوصي ښوونځیو کې شاملېږي.

د ننگرهار مرستیال والي د خصوصي ښوونځیو له هغه مسوولینو څخه، چې په وړیا توگه یې راستنو شویو زده‌کوونکو ته د زده‌کړو د دوام زمینه برابره کړې ده، مننه وکړه.

د ننگرهار د مهاجرینو چارو رییس، ملا عزیز الرحمن سرحد او د دغه ولایت د ښوونې او روزنې رییس، شیخ شریف الله حلیمي د خصوصي ښوونځیو همکارۍ وستایلې او راستنو شویو زده‌کوونکو ته یې د ځانگړې پاملرنې ډاډ څرگند کړ.

د یاد ولایت د مهاجرینو چارو رییس پر وینا، چې له دغې هوکړې سره سم به سل لوی ښوونځي لس لس تنه او ۲۸۴ نور ښوونځي به پینځه پینځه تنه زده‌کوونکي جذب کړي، چې په ټوله کې ۳ زره او ۴۲۰ تنه کېږي. د یو ښوونیز کال لپاره د دغه تړون لگښت شاوخوا یونیم میلیون افغانۍ کېږي.

نوموړي د خصوصي ښوونځیو مسوولینو ته ډاډ ورکړ، چې له گاونډیو هېوادونو ټول راستانه شوي سند لرونکي کسان به په رسمي ډول دغو ښوونځیو ته وپېژندل شي او دا لړۍ به په راتلونکې ډول مخکې لاړه شي.




## ده ها تن مهاجر محبوس پس از رهایی از زندان به کشور برگشت نمودند

۷۵ تن از افغان های مهاجر محبوس از زندان های کشور پاکستان در هفته روان، رها و پس از آزادی به کشور برگشت نمودند.

به اساس گزارش آمریت انتقالات مهاجرین ریاست امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت قندهار در سپین بولدک افراد یاد شده مدت یک روز الی ۲ ماه را دربند بودند که پس از ثبت در آن آمریت و دریافت مساعدت های بشری به محلات اصلی شان انتقال شدند.